پښتو ژباړه: رحمت آريا

۲۰۲۳/۰۹/۱۱

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال

## پينځم توک

دوه سوه او اته شپيتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ايديت:

ډاکټر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**ترين: يا: تيرين کوت**: [1]: ۵۲ – ۳۲، ۳۸ – ۶۵ «الف»: *ترين/ تيرين د روزگان په ولايت کې د يوهٔ کلي او د روزگان د ولايت مرکزي ولسوالي ده. دا ولسوالي ۱۶۱۷ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمير ئې افغان سرچينو د ۱۰۹۴۷ تر ۱۵۹۸۴ تنو تر منځ اټکل کړې دی. دا ولسوالي په لويديځ کې له دهراوډ، په شمال کې له کجران او گيزاب، په ختيځ کې له چورې او په سويل کې د نېش له ولسواليو سره پوله لري. د تيرين ولسوالي ۵۸ کلي لري چې ۱۰ کلي ئې له ۵۰۰ ډير استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:*

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| آب بُرده | | گلخانه | | سپين کيچه «سپين يکچه» | Spin Kicha (Spin Yakcha) | چينه | |
| بلوچي | | تالاني | Talani | چرمستان | Charmistan | چنار | |
| چشمهٔ سبزک | | چشمهٔ ميران | | راج واني | Rajwani | کچ کين «گلچين» | Kach Kin (Gulchin), |
| ساجه وال | Sajawal | خواجه احمد | | دِهٔ جَوزِ بارکزی | | دِهٔ جَوزِ حسن زي | |
| خانقاه | | دِه يکِ لعل بيگ | | دِه يکِ سرکاني | | سر شاخ لي | |
| ناچين | Nachin | گل امان | | وانو | Wano | سُرغ مرغاب | Surgh Murghab* |
| * ښايي دغه سرخ مرغاب - ژ | | | | | | | |
| سرخ ليز | Surkh Liz | سينها | Sinha | سرخُمي عليا | Sarkhum-i-Ulya | سر خُمي سفلی | |
| سربولاغ «بولاغ» | Sarbulagh (Bulagh) | سفيد خار | Safid Khar | شاه منصور | | شاه ظفر | |
| صد مُرده | Sad Murdah | صد مُردهٔ عليا<br>Sad Murda- i -Ulya | | صد مُردهٔ سفلی<br>Sad Murda-i- Sufla | | توري | |
| خيرو کاريز | | عباس علي | | قلعهٔ عراقِ نهرِ کربلايي «قلعهٔ عراق» | | قلعهٔ قلعه | Kala- i -Kala |
| قلعهٔ نو | | قلعه چهٔ نـَو | | ککرک | | کوټ وال | |

[1] - TIRIN Or TIRIN KOT




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| گرم آبِ پاینده محمد «گرم آب» | خرما | کتِه خنجک | کـَرَم کاریز |
| گرنـي Garni | موسی زي | میر آباد | کوري Kori |
| نیازي | نو جوی | یک لنگه | چرم گر |
| کارنـه Karna | | | |

*دا سیمه په ۱۹۱۴ ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:*

دا د کندهار د شمال په تقریباً ۸۰ مایلۍ کې د هزاره جاتو پر پولې یوه لیرې پرته ولسوالۍ ده.

له دې ورهاخوا نور لږ معلومات په لاس کې سته لکه: دا ولسوالي حاصلخیزه ده او کندهار ته په غټ شمیر کې غلات صادروي. دې ولسوالۍ ته د خاکریز او نېش له طریقه د«پودینه او د پاج» [2] د کوتلونو له لارې او هم د «غورک» [3] له لارې له میوند څخه لارې تللې دي چې د باروړونکو څارویو لپاره ښې لارې دي. سنت جان په خپلې شرحې کې وایي چې تیرین او دهراوډ له سره تر پایه آسانه سیمه ده، ښـه خړوبه ده او پریمانه جوار لري. تیرین ډیره ښه هوا لري او استوګن وګړي ئـې درانیان دي.

د تیرین اوبـهٔ د تیرین په سیند کې راتولیږي او د همدې سیند په اوبو سمسوریږي، د تیرین سیند د «میاالدین» [4] د سویل په څو مایلۍ کې له هلمند سره یو ځای کیږي. په اساسي درې کې د کامران لوړوالی چې په نقشې کې ورکړل سوی ۴۴۴۸ فیټه دی، حال دا چې ختیځ ته ۶ مایله وړاندې «توري» [5]، ۴۷۱۹ فیټه لوړ ویل سوی دی. لویدیځ لور ته، هلمند ته نیږدې، «لوبلان» [6] ۳۶۱۳ فیټه لوړ دی. «لینس، لیچ، آی. بي. سي.» *په ځینو اوسنیو نقشو کې په دې نوم سیند «تري» [7] او «تیرین» او «ترین» [8] لیکل سوی دی.*

**ترخه**: وګورئ: کافر څاه: [9]: ۳۷ – ۳۱، ۵۲ – ۶۷ «ج»

**تیروه**: [10]: ۴۷ – ۳۱، ۲۴ – ۶۸ «ن»: دا لا تر اوسه سهواً «په غلطه» هغې سیمې ته اطلاق کیږي چې د تره کي غلزیو یوه څانګه ده او د «لوانه» [11] قبائـیل په کې استوګنې دي او د «کُچ خوارهٔ» [12] او د «ګردي ځنګل» [13] د دښتو په سویل ختیځ کې واقع ده. که په ځیر سره ووایو نو دوه تیورې وجود لري: «لوانه تیروه» [14] او «تره کي تیوره» [15]. دلته موږ د «تره کي تیروې» په هکله غږیږو او کولای سو په دې ډول ئـې تعریف کړو چې دا یوه کوچنۍ علاقه ده او د تره کي غلزیو د «شابـِـه خیلو» [16] څانګه په کې استوګنه ده؛ دا علاقه ۱۰ مایل مربع ده چې په شمال لویدیځ کې د «کچ خوارهٔ» او په سویل ختیځ کې د «تانون» [17] دښتې تر منځ سیمه په ځان کې رانغاړي او په شمال ختیځ کې ئـې د «بازینګاني» [18] دښته او د «شاه غر» غرونه ورسره کرښه جوړوي او په سویل لویدیځ کې ئـې د تیورې سیند او د «شاه غر» [19] غرونه واقع دي. اوسط لوړوالی ئـې تقریباً ۶۶۰۰ فیټه دی. کلي ئـې په دغو نومونو دي:

| | |
|---|---|
| ارسلا کلا | سرور کلا |
| صادق کلا | خدای رحیم |
| لویه کلا یا د یا غلام رسول کلا | بَک شي کلا |

---

2 -Podina and Paj passes
3 -Ghorak
4 -Maiudin
5 - Turai
6 - Lublan
7 - Teri
8 - Tirin & Tarin
9 - TIRKHA See KAFAR TSA
10 - TIRWAH: په انګلیسي متن کې ئـې کې په عربي الفباء د همدې نوم مخې ته «تروه» لیکلی ده. صحیح بڼه ئـې د انګلیسي تورو له مخې باید «تیروه» وي. - ژ
11 - Lowana
12 - Kuch Khwara
13 - Girde Zangal
14 -Lowana Tirwah
15 -Taraki Tirwah
16 - Shabeh Khel
17 - Tanun
18 - Bazingangi
19 - Shah Ghar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دغو کليو کې «بک شي کلا» [20] يوازينی کلی دی چې د «تيورۍ د سيند» پر ښی غاړې واقع دی. دا کلی په خپلو ګوټونو کې معمول برجونه لري چې د څارلو لپاره دي او په خپل سويل ختيځ مخ کې د ننوتلو دروازې لري. د کليو استوګن وګړي اصلاً کروندګر دی او يو څو پسونه او وزې هم ساتي. دوی د سخوندر او خرونه د بار وړونکو څارويو په توګه ساتي؛ اوښان لږ کاروي. د دې علاقې په سويل ختيځې منتهی اليه کې د کښت او کر کيلې لويه برخه واقع ده او ورسره په سويل کې کرل سوې ځمکې په «لوانيانو» [21] اړه لري؛ په ۱۸۹۴ز کال کې د افغان – برتانيې د ګډې کميسارۍ په منځګړتوب د لوانيانو او تره کيو تر منځ د اوبو او د ځمکو پر سر شخړې حل و فصل سوې. لاندې د دې ګډ موافقت ليک لنډيز را اخيستل کيږي:

"د هندوستان د دولت او د افغانستان د اعليحضرت تر منځ د قلمرونو د حد په هکله: له اوومې شميرې ستنې چې موقعيت ئې په دوهم موافقت ليک کې ثبت سوی دی موږ د «تيورۍ» د ځمکو په اړه د «شابــِه خيلو-تره کيو» او «لوانيانو» ترمنځ د ګډ ملکيت په اړه د ستونزې د حل په لاره کې د پام وړ ستونزې وليدلې. د لرغوني توافق له مخې چې ډير کلونه وړاندې دغو دواړو قبيلو په خپل منځ کې کړی وو دا وو چې د تيروې اوبــهٔ د توافق له مخې په ۲۱ ونډو يا برخو ويشل سوې وې يعنې ۲۱ شپې او ورځې «۲۱ شبانه روز» په دې ډول: ۱۲ ونډې يعنې ۱۲ شپې او ورځې د لوانيانو ثابت ملکيت او ۹ ونډې يعنې ۹ شپې او ورځې د شابــه خيلو تره کو ملکيت. د اوبو ويش لا تر اوسه په همدې حال پاتې دی او ټولو په ګډه موافقت وکړ چې له دې وروسته دې هم په هماغــهٔ پخواني حالت پاتې وي.

" د ځمکو په هکله: لوانيان او شابه خيل تره کي په هغو کرښو يا پولو سره موافق نــهٔ ول چې د دوی اړوندې ځمکې سره جلا کوي؛ له دې کبله دا موږ ته اړينه وه چې دا ستونزه حل کړو. له يو شمير خبر اترو وروسته لوانيان او شابه خيل تره کي د سوګند په اخيستلو موافقه وکړه چې د خپلو پولو يا حدودو ستونزه به حل کړي. هغه ګډ موافقت ليک چې د دوی توافق ورباندې سوی له دې توافق ليک سره ضميمه دی. هغو لوانيانو چې د شابه خيلو تره کو ملکانو ته سوګند ورکړی دی دا دي: غلام رسول د غلام خان زوی او صادق د علم خان زوی، دواړو قرآن په لاس کې ونيوهٔ او خپلې پولې ئــې له هغــهٔ ټکي په نښه کړلې چې د تيروې نهر د «زرې کلي» ته نيږدې د تيروې د سيند له غاړې وځي. د پولو د ټاکلو په موافقت باندې موږ ټولو په ګډه موافقه وکړه او په دې توګه د لوانيانو او شابه خيلو تره کو تر منځ توافق ته سره ورسيدلو.

" همدا شان موږ په ګډه د شابه خيلو او لوانيانو د پورته يادو سويو حقوقو په اړه د نورو حقوقو تر څنګ په لاندې ډول موافقه وکړه يعنی:

" (۱): په تيورۍ کې د ميشتو دواړو قبيلو، لوانيانو او شابه خيلو تره کو، د تيورۍ د سيند د اوبو ګډ حقوق، د اوبو تر سر پورې ول چې دواړو قبيلو په ګډه د اوبو ملکيت درلود يعنی تر هغــهٔ ټکي پورې چې د « وروسکي کربوړي» [22] په نوم ياديږي يعنی د «کربوړي» د غرهٔ لويديځ ټکي پورې به په لاندې ډول ونډه ولري، چې له هغه پورته لوانيان او تره کي هيڅ دخل او تعلق نــهٔ لري: لوانيان ۱۲ شپې او ورځې حق لري، تره کي ۹ شپې او ورځې او دا هماغه حقوق دي چې له لرغونو مهالونو تر اوسه همداسې پاتې دي. دواړه قبيلې د لرغونو مهالونو د دود پر بنسټ او د پورته يادو سويو ونډو پر بنسټ د اوبو د نهرونو د پاکلو مکلفيت لري

" (۲): هيڅ لوری يعنې نــهٔ لوانيان او نــهٔ تره کي دا حق نــهٔ لري چې د يو بل له سلا او توافق پرته په خپل سر او يا د بل لوري د غوښتنو پر ضد په هيڅ ټکي کې يعنې تر هغــهٔ ټکي پورې چې د زاړهٔ نهر اوبــهٔ په کروندې کې پای ته رسيږي، نوی د اوبو بهير جوړ کړي، يعنی هغه ټکي کې، چې د تيورۍ د زاړهٔ نهر د اوبو لپاره چې د لوانيانو او د تره کو د ځمکو له منځه تيريږي، د «الف – دريم» نمبر د پولې ستــنه درول سوې ده.

" (۳): د دواړو قبيلو يعنې د لوانيانو د شابه خيلو تره کو د عامې عمومي لارې په اوږدو کې هيڅ څوک په هيڅ ټکي کې د کرهنې د کولو حق نــهٔ لري چې په تيورۍ کې د لوانيانو او تره کو د پولو په حدودو کې په هيڅ لور کې چې د دواړو قبيلو لارې وې څوک د کرهنې د کولو حق نــهٔ لري."

د تيورۍ سيند په حقيقت کې د «کچ خوارهٔ» دوام دی. «کافر سنځله» [23] د کچ خوارهٔ له سره د «اورساکي» [24] په چينې کې يو ځای کيږي، اورساکي د تره کي تيورۍ د شمال په تقريباً ۴ مايلۍ کې واقع دی چې سويل ته د ۵ مايلو لپاره د «ملوکاج» [25] تر چينې پورې پر مخ ځي او بيا مخ پر سويل ختيځ يو توند کوږوالی نيسي او له همدې ځايه وروسته د تيورۍ په نوم

---

[20] -Bakshai Kala

[21] -Lowanas

[22] - Wruskai Karbore

[23] - Kafir Sinzala

[24] - Orsakai

[25] - Malukaj


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولــئ

یادیږي. د ۱۲ مایلو له واټن وروسته دا سیند صالح کاریز ته نیږدې د «جندو نالې» [26] له نالې سره یو ځای کیږي؛ له «ملوکي» [27] چینې کوز تر «زړې کلا» [28] پورې د اوبو ډیر ښـهٔ بهیر دی؛ په زړې کلا کې اوبـهٔ مصنوعی نهر ته د لواښي او تره کي ځمکو د خړوبولو او کښت و کار لپاره گرځول سوي دي چې له همدې ټکي وروسته د سیند بستر تر هغو وچ دی چې عبدالوهاب ورسیږي؛ له عبدالوهاب وروسته تر «گرابي» [29] پورې د اوبو ډیر ضعیف بهیر سته خو له هغه وروسته سیند یو ځل بیا وچیږي.
د تیورې سیند دوه اساسي څانگې لري: په ښۍ غاړه کې کدني، له زړې کله ۲/۱ ۳ مایله کوز او ۲ مایله وړاندې «غورلامه» [30] په کیڼ لاس کې.
د سیند د بستر اوسط پلنوالی له ۴۰ تر ۵۰ یارډو پورې دی، خو په زړه کلا کې سیند ۱۵۰ یارډه لوییږي. د سیند له فصل پرته نور د سیند هر ځای کې بلې غاړې ته اوښتل شونی دی. د سیند په غاړو کې یوازیني کلي د تره کو کلي دي چې پورته ئې یادونه وسوه. «مک موهن، بن»
په تره کي تیورې کې د ۳۰ خاصه دارانو یوه پوسته سته. «آی. بي. سي.» *د تیورې سیند د قلات د سویل په تقریباً ۳۰ مایلۍ کې په ۱ – ۳۲، ۵۰ – ۶۶ «ج» واقع دی.*
* **تیسان:** ۲۳ – ۳۱، ۳۳ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «لنډې وازي» [31] د لویدیځ په تقریباً ۴ مایلۍ کې او د «بالا زر» [32] د شمال په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.
**توفان زي:** ۳۴ – ۳۱، ۳۶ – ۶۶ «ج»: دا یو کلی دی چې له ۸۰ تر ۱۰۰ پورې کورونه لري او د «ارغسان لوړه» له ښۍ غاړې څخه تقریباً یو مایل لیرې موقعیت لري. مسي ئې د داسې ځای په توگه یادوي چې په «سربلند» کې د دیره سویو سرتیرو لپاره ورڅخه د اړتیا وړ توکي ښایي ترلاسه سي. کلیفرډ وایي چې دا کلی هیڅ کرنیزه یا د کرنې وړ ځمکه نـهٔ لري. «مسي. کلیفرډ» *اوسنی نقشې په دې سیمې کې د «چوپان زیو» نوم په ۳۴ – ۳۱، ۳۵ – ۶۶ «ن» کې ښیي.*

**توخي:** د غلزیو یوه اساسي څانگه ده.
**تون گی:** یا: تنگی: ۵۱ – ۳۰، ۵۵ – ۶۵ «ج»: دا له جت پوټي څخه تر کندهار پورې له دواړو ځایونو څخه تقریباً ۵۰ مایله لیرې د سړکونو په منځ کې د یوهٔ سړک پر غاړې د دمې نیولو ځای دی. له دې ځایه سون توکي او واښـهٔ ترلاسه کیدای سي او اوبـهٔ ئـې هم له څاهانو دی. «هنل او روم، له بومي معلوماتو څخه» *همدا شان وگورئ: تنگی*
**توره باز:** [33]: ۹ – ۳۱، ۵۱ – ۶۵ «ج»: دا د ریگستان پر ژۍ د ډورۍ د سیند په کینه غاړه کې د کوچنیو کلیو یوه ډله ده او د هغـهٔ گودر په لویدیځ کې موقعیت لري چې شرحه ئـې د سلطان محمد تر سرلیک لاندې راغې ده. هنل چې دا ځای د بارکزیو د ژمي د استوگنې د ځای په توگه یادوي د اکتوبر د میاشتې په پای کې ئـې دلته د جَوسې لوئـې لوئـې کواړۍ لیدلې وې. «هنل» *افغان گزیټر په دې نوم یوه څاه ثبت کړې ده.*
**توره غاړه: یا: توره گره:** [34]: ۳۲ – ۳۱، ۱۳ – ۶۶ «ن»: ویل سوي چې دا له «کوغي» څخه ۱۱ مایله لیرې او د ارغسان سیند ته نیږدې په هغـهٔ ټکي کې یو کلی دی چې د لهار سیند یا ناله له ارغسان سره یو ځای کیږي. دې کلي کې بارکزي استوگن دي چې پسونه، وزې او کورني څاروي لري خو اوښان نـهٔ لري. دا کلی د غرونو په منځ کې واقع دی، په دغو غرونو کې د اوبو کوچنۍ چینې هم سته. کلي ته نیږدې ۳ یا ۴ کاریزونه سته. «آغانام» او میر غلام ولي چې دواړه په قوم بارکزي دي د دې ځای معتبر کسان دي. له دې کلي څخه تقریباً ۱۰ خرواره غنم، ۱۵ خرواره بهوسه او ۵ خرواره جواري تر لاسه کیدای سي. «بومي معلومات ۱۹۰۴ – ۰۵ » *همدا شان په همدې نوم یو غر هم سته چې ۱۷۳۴ متره لوړوالی لري او په ۱۳ - ۳۱، ۲۴ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

---

[26] - Jindo Nala
[27] - Malukai
[28] - Zara Kala
[29] - Gurabai
[30] - Ghorlama
[31] - Landi Wazai
[32] - Balazar
[33] - TORABAZ: د «توره باز» (شمشیر زن) نوم په دري پښتو ادبیاتو کې اکثریت وختونه د «تره باز» ( چې په انگلیسي متن کې ددې نوم انگلیسي مخ ته په بل اړخ کې ئـې تره باز لیکلي دي)، طره باز، تور اباز او په نورو مشهورو غلطو ډولونولیکل سوی دی. - ژ
[34] TORAGHARA Or TORA GARA: په انگلیسي متن کې ددې نامـهٔ مخې ته ئـې په عربي الفبا «توره غر» (غار) لیکلی دی چې صحیح نـهٔ ده. دا «توره غاړه» یا «توره گره» ده – ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**تورک کاریز**: ـ ۳۱، ـ ۶۸: دا د «چینجي زامه» [35] کیني غاړې ته نیږدې د «ناصرو» یو کوچنی کلی دی. «بن»

**توره شاه**: ۴۱ ـ ۳۱، ۴۶ ـ ۶۸ «ن»: دا یوه کوچنی دښته ده او په هغې زاوئې کې موقعیت لري چې د د قندیل ـ شاران توی د سیندونو د یو ځای کیدنې ټکی ئې جوړوي. «بن»

* **تور بَلدَک**: وګورئ: بَلدَک: ۵۲ ـ ۳۰، ۱۷ ـ ۶۶ «ج»: دا د غفور کلي په شمال کې یو غر دی.

**تورکاني ناوه**: ترکني ناوه: ۱۶ ـ ۳۲، ۵۴ ـ ۶۷ «ن»: دا د آب آیستاد د جهیل په سویل کې د غلزیو په سیمې کې یوه دښته ده. دا یوه مخ خلاصې او ښـه کرل سوې دښته ده چې په سویل کې ئـې توخیانو او هوتکو او په شمال ختیځ کې ئـې تره کو کرهنه کړې ده. «براد فوټ» *اوسنی نقشې یوازې د «ناوې» نوم ښیي.*

**تور کځ**: [36]: ۲۲ ـ ۳۱، ۴۶ ـ ۶۷ «ج»: دا د «الا جرغي» د شمال لویدیځ په ۳ مایلۍ کې په همدې نامـهٔ د یوې نالي سر یا پیل ته نیږدې یو کوچنی کلی دی او د پسین د قبیلې وګړي په کې اوسیږي. «بن». دلته د ۳۴ خاصه دارانو یوه پوسته هم سته. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

* **تورمه**: ۴۷ ـ ۳۳، ۶ ـ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د بَرَنې «ګوجرباش» [37] سیند پر غاړې شاه جوی ته نیږدې یو کلی دی.

**تور منزه کي**: وګورئ: منزکي

**توروام**: ۵۴ ـ ۳۱، ۱۷ ـ ۶۸ «ج»: دا د تره کي تیوري په شمال ختیځ کې یوه دښته ده چې له کچ خوارهٔ سره پوله لري او په بوټو پوښلې ده. «بن» اوسنی نقشې په دې نوم یو ځای په ۳۴ ـ ۳۱، ۱۵ ـ ۶۷ «ن» کې ښیي.

**تور زي**: ۱۱ ـ ۳۰ ، ۵۹ ـ ۶۵ «ن»: دا په ښوراوک کې د ریګستان پر ژۍ د جت پوټې د لویدیځ په تقریباً ۱ مایلی کې یو کلی دی. دا د کلیو په منځ کې په سویلي منتهی الیه کې واقع ده چې په دې کلي پسې د منصور او زکو زیو علي زیو کلي راځي. دې کلي کې د تورزیو زکوزیو ۸۰ کورنئ اوسیږي. «میتلند»

**تورخنګل**: ۳۵ ـ ۳۱، ۴۲ ـ ۶۷: دا یوه دښته ده چې د کند د سیند له ښۍ غاړې څخه د «ژوبې» [38] د غرونو پر لور غځیدلې ده. له سویل څخه تر قلات غلزایي پورې سرک له دې کلي څخه مخ پر شمال لویدیځ لور، تیریږي. «بن»

* **توشکان**: ۵۵ ـ ۳۲، ۴۰ ـ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د تیرین د سیند د یوې څانګې پر غاړې د روزګان د ختیځ په تقریباً ۳ مایلی کې یو کلی دی.

**توزنه**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا یوه ناله ده چې د کدني د سیند له کیڼې غاړې سره د «تاش رباط» له خولې څخه ۲/۱ ۱ مایل کښته یو ځای کیږي. ویل سوي چې له چمن څخه یوه راغلې لاره په دې نالي منتهی کیږي او د «پښې» [39] له کوتل څخه تیریږي. د لارې په اوږدو کې اوبـهٔ په قلت دي او لاره سخته ده. «بن»

**تریخ چتري**: ۲۷ ـ ۳۱، ۱۹ ـ ۶۸ «ج»: دا د کچ خوارهٔ یوه ځنګیزه ناله ده. دا نوم یوې دښتې ته هم اطلاق کیږي او په هغې زاویې کې واقع ده چې دوه وو نالو جوړه کړې ده. «بن»

---

[35] - Chinjizama

[36] - TOR KATS : په انګلیسي متن کې ئـې ددې نوم تر ځنګ په پښتو الفبا «تور کاځ» لیکلې دې حال دا چې صحیح بڼه ئـې تور کځ ده. - ژ

[37] - Ghojurbash

[38] - Zhobai

[39] - Psha pass



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**تریخ ګاز:** داسې ښکارې چې دا نوم د خروټو او پوونده قبیلو له پلوه د قندیل د سیند هغې برخې ته اطلاق کېږي چې سیند د «دو چینی» [40] د ګاونډ له منځه تیریږي. «بن»

**څګې:** [41]: ــ ۳۱ ــ ۶۶: دا د «سینا» [42] د سرک پر غاړې د نوي چمن د شمال ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې او د «شیر- ی- اوبـهٔ» [43] د نالې د شمال په ۱/۲ ۲ مایلۍ کې د دمې نیولو یو ځای دی. د دې ځای اوبـهٔ چې له کاریزه دي پریمانه دي. «بن»

**تمبیل:** ــ ۳۱، ـ ۶۵: دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس»

* **تمزي:** ۵۹ ــ ۳۱، ۲۱ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د شینکی د شمال لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې د لوړه د سیند د یوې څانګې پر غاړې یو کلی دی.

* **تونګر:** ۲۳ ــ ۳۲، ۲۷ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د «شیکان غر» [44] په شمال کې او د «کِشخـَـتـو» [45] د سویل ختیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی.

**توره باز کاریز:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د ترنک په کیڼې غاړې کې یو کلی دی چې د کندهار د ختیځ په ۱۷ مایلۍ کې د کهندل کاریز ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»

**تراب کاریز:** ـ۳۱، ـ۶۵: دا د کندهار د ختیځ په ۶ مایلۍ کې د «شور اندام بابې» [46] د شمال په یو مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو»

**توران:** دا د غلزیو له دوه وو اساسې څانګو څخه یوه څانګه ده، چې بله څانګه ئې برهان نومیږي. وګورئ: شپږم ټوک.

* **توري زي:** ۳۷ ــ ۳۱، ۲۸ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د رشید له کلا څخه تر اتغر پورې د سرک د غاړې په تقریباً نیمایې لارې کې او د سرخاب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**تورکي:** دا د بلوڅو د سرحد پر غاړې د ۱۰ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بی. سی. ۱۹۰۴»

* **تورکک:** ترکک: ۱۵ ــ ۳۳، ۵۸ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې «شیر نظر» ته نیږدې د «شاه توت د سیند» پر غاړې یو کلی دی.

**توت:** ۵۵ ــ ۳۱، ۳۸ ــ ۶۶ «ج»: دا د ترنک د سیند ښې غاړې ته نیږدې له کندهاره ۶۵ مایله لیرې د قلات غلزایي د سرک پر غاړې د کمپ یوه سیمه ده. په ۱۸۸۰ز کال کې دلته اوبـهٔ، وابنـهٔ، د اوښ خوراک پریمانه ول خو سون توکې په قلت کې. که د غلزیو له سیمې څخه اجتناب کوئ نو یوه بله متبادله لاره له توت څخه تر غزني پورې تللې ده، همدا لاره په مقر کې له عمومې لارې سره یو ځای کیږي. د تیر انداز تر منار پورې چې د کندهار پر لور نیږدې ترینه د کمپ سیمه ده ۱/۲ ۱۰ مایله ده او تر «آسیا هزاره» [47] پورې چې د قلات غلزایي پر لور د دمې نیولو راتلونکی ځای دی ۱۰ مایله دی. «آی. بی.سي.»

**توت:** ۴۵ ــ ۳۱، ۲۷ ــ ۶۵: دا یو خط الرأس دی چې له میر هزار څخه د تنګلې د کوتل له لارې تر خاکریز پورې لاره ورڅخه تیریږي. «لینس»

* **اوغور:** ۳۶ ــ ۳۳، ۵۹ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د رباط د سیند پر غاړې، د آهو له سیند سره د یوځای کیدنې په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کلی دی.

**اویان:** وګورئ: اویان: ۵۶ ــ ۳۱، ۳۴ ــ ۶۶ «ج»

**اوک کاس:** وګورئ: تازي

* **اولګی:** ۸ ــ ۳۱، ۱۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ډبرې د شمال لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې او کندهار ته د تللې لارې د سویل لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

**اولان رباط:** ۳۷ ــ ۳۲، ۲۴ ــ ۶۷ «ن»: دا د ترنک د سیند پر غاړه د کلیو یوه لویه ډله ده چې د قلات غلزایي په شمال ختیځ کې واقع او په دې لور کې د توخې غلزیو حد جوړوي. دا کلې د ساه جوی [48] «شاه جوی ــ ژ» د شمال په تقریباً ۷

---

40 -Do China
41 - TSAGAI
42 - Sina
43 -Sher -i -Oba Nala
44 -Shaikan Ghar
45 - Kheshkhatu
46 -Shorandam -i -Babi
47 -Asia Hazara
48 -Sahjui


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مایلۍ کې واقع دي او همدغو کلیو ته نیږدې ول چې د ۱۸۸۰ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۴ نیټې د شاه جوی جګړه ونښتله. «ایوان سمیټ، آی. بي. سي.»
ویل سوي چې دا سیمه په همدو شاو خواوو کې ډیره بډایه ده. «آی. بي. سي. ۱۸۸۰» *اوسنی نقشې د «ولان رباط» نوم ښیي.*
* **علماء**: ۵۹ ــ ۳۲، ۵۵ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل او د روزګان د ولایتونو د پولو پر غاړې او د «کوهٔ سقاو» او «کوهٔ ګولاو» [49] تر منځ د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی.
* **اومکی**: ۱۱ ــ ۳۲، ۲۵ ــ ۵۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «سپین بغل غر» [50] په شمال کې او د «لام» [51] د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.
**عمر**: ۳۴ ــ ۳۱، ۲۳ ــ ۶۶ «ج»: دا د بارکزیو د کلیو له ډلو څخه د کلیو یوه ډله ده چې په ګډه د کونچا زیو په نوم یادیږي. دې کلي کې ۶۰ کورونه دي او د ارغسان د سیند ښۍ غاړې ته نیږدې، د ارغسان او د خشک رود د سیندونو د یو ځای کیدنې له ټکي څخه ۱/۲ ۴ مایله کوز د قلات غلزایي سړک پر غاړه د امین له کلا پورته واقع دی.  له کلي څخه تقریباً ۱/۲ مایله  پورته له دغهٔ سړک سره هغه لاره یو ځای کیږي چې د تګک له کوتل څخه په نهم مایل کې را اوړي او د ترنک درې ته تللې ده. د دې کلي نوم د یوهٔ ملک له نوم څخه راغلی دی چې په ۱۸۷۹ ــ ۸۰ کال کې د دې کلي ملک وو، نوموړی د مسکین خان تر واک او اختیار لاندې وو، مسکین خان په قوم کوچانزی وو. «کلیفرډ، مسي» *په دې نوم بل کلی په ۲۴ ــ ۳۱، ۴۳ ــ ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*
**عمر**: دا د هلمند ــ نوشکي پر لارې د دمې نیولو ځای دی چې ښې او پریمانه اوبهٔ لري. «اس. ام. ونلیس ۱۹۰۳»
**عمر خان زي**: دا د بارکزي درانیانو یوه څانګه ده. «بیسکو» *په دې نوم یو کلی هم سته چې د سپین بولدک د شمال ختیځ په تقریباً ۱۵ مایلۍ کې په ۶ ــ ۳۱، ۲۹ ــ ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*
**اوندوزه**: «وندوزه»: ــ۳۱، ــ ۶۶: کله ناکله د وندوز د نالې نوم په دې بڼې هم لیکل کیږي.
**اورسک**: دا د بلوڅ ــ افغان پر پولې د ۴۵ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»
**اورځل غاښی**: [52]: ۴۶ ــ ۳۱، ۴۴ ــ ۶۸ «ج»: د «هربه که» (آر به کي) [53] د غرنۍ لړۍ سویلي برخه د «اورځل غر» [54] په نوم یادیږي؛  د دې لړۍ له پاسه د «کندر» [55] له درې څخه تر غزني پورې د «دو چینې» له لارې لاره د یوهٔ کوتل له لارې تیریږي؛ دا کوتل د «اورځل غاښي» په نوم دی چې سیمه ییز خلک ئې د «اور ځل غیر» [56] په نوم هم یادوي. «بن»
**اشتر لار**: ــ ۳۰ ، ــ ۶۶: دا د سرلت په غرنۍ لړۍ کې یو کوتل دی چې په لویدیځ شارود کې له بالا دشت څخه د ښوراوک تر دښتې پورې لاره ورڅخه تیریږي. دا کوتل د «سلواتو» [57] له کوتل څخه په «پیر ګالي چوپال» [58] کې په دوه وو څانګو ویشل کیږي او د پیرمحمد کاریز ته نیږدې راڅرګندیږي. سره له دې چې دا د «اوښ» د کوتل په نوم یادیږي خو لاره ئې بده ده او ویل سوي چې د اوښانو د تګ لپاره عملي نهٔ ده. «میتلند»
* عثمان خیل: ۲۹ ــ ۳۳، ۹ ــ ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د آجرستان د سویل لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې د «باتور» د سیند پرغاړه یو کلی دی.

نور بیا

## عثمان زي:

**یادونه**: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

49 -Koh -i-Gullaw and the Koh-i-Saqaw
50 -Spin Baghal Ghar
51 -Lam
52 - URZAL GHASHE: په انګلیسي متن کې ئې په عربي الفباء ددې نوم مخې ته «ارزل غار» لیکلي دي چې څرګنده غلطي ده. ددې نوم صحیح تلفظي بڼه هماغسې چې په انګلیسي کې لیدل کیږي «اورځل غاښی» دی. - ژ
53 - Harbaka (Arbaki) range
54 - Urzal Ghar
55 - Kundar valley
56 - Urzal Ghare
57 -Salwatu pass
58 -  Pir Gali Chopal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ